مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۷/۱۸

# نې وينم

زه ئې په کــړو وړو کې هيڅ درنښت و جلال نه وينم
زه ئې په خبرو کې خدايرو ځرک د جمــال نـــه وينم

ګپ په قــاف و لام کړي تظــاهر د هوښيارانـو کړي
زه ئــې پــه وينـا کې هيــڅ راز پوخ استدلال نـه وينم

لږ خــو راتـه وخـانـــده ژړاوو مـــي زړه وچـــــاودو
خودښکه چي مات زړه کي نور د صبر مجال نـه وينم

ســوځــم لــه کلونــو پــه لمبو کي د هجـــران د اور
دي اوږده بېلـتون کې هــيــڅ اميد د وصــال نــه وينم

بـحـر تــوپـانی, بــېـړی مــو مــاتــه ساحل لـيري دئ
دا شان بــدمــرغيو کي د ژغــور احتمــال نــه وينم

حـال وتـه چي ګورم پــر مــاضي هــم بـدګمانــه سم
دي تـورو تـيــارو کي کورټ ځـلاند استقبال نـــه وينم

بــار د ژونـــدانـــه دئ تر مـزلــه ئې رسَوَل پـــه کار
خو, زه دې "مُعرّب ماشوم" کي دومره کمال نـه وينم

آشاوا - کانادا
15جولای 2019 ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ